مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي ۲۰۱۹/۰۳/۰۲

# د لاجوردو ترانزيتي دهليز، اقتصادي،

## جيوستراتېژيک او جيوپوليتيک اهميت

### پنځمه او د پای برخه

**د پام او احتياط وړ خبرې:**

د سترو بيخبنايي پروژو – ترانزيتي دهليزونوته نن سبا د سيمه ايزي همغږۍ او اقتصاد د خوځوونکي قوت په نظر کتل کېږي. زيات ملکونه د نړيوالي ټولني او پانګوالو په مرسته په ورته دهليزونو کي پانګونه کوي تر څو داسي سترې اقتصادي ګټې چي په ټول ملي اقتصاد او ټولنه کي خورې شي، تر لاسه کړي. خو که ترانزيتي دهليزونه له هيلو سره سم اړيني اقتصادي ګټې رامنځته نه کړي، نو هغوی هسې د سترو پانګو ضايع کوونکي سپين پيلان کېږي – د ترانسپورت هغه بېخبناوې چي زيات ترافيک نلري.
په دې هکله اوسنی نړيوالي تجربې موږ ته برياوې او ناکامی دواړه راښيي. د مثال په توګه د ويتنام د پنځمي شمېرې ملي ستر سړک چي په ۱۹۹۰ کي رامنځته شو او پلازميني هانوی او د های فونګ بندر يې سره وتړل يوه بريالی تجربه وه. دې پانګوني د کار وبار او تشبثاتو (بزنسونو) چاپېريال ته سمون ورکړ او په انساني سرمايي د پانګوني په مرسته يې د سړې دلتا په ګڼ مېشته سيمه کي ښېرازي رامنځته کړه. له ۱۹۱۵ تر ۲۰۰۰ کاله پورې په دې سيمه کي د بېوزلی کچه په حيرانوونکي ډول ۳۵ سلنه راکمه شوه، ملي اوسط رقم يې چې ۲۷ سلنه و، شاته پرېښود ( JICA ).
د دې په پرتله، د څو ملتيزه ستر ميکانګ د سيمي دهليز د ترافيکو کچه بيا ټيټه پاته شوه ( ADB; Srivastav and Kumar 2012). بله خبره داده که کوم ترانزيتي دهليز ستره پانګه را منځته کړي، نو ايا په ټول نفوس کي به په برابره توګه وويشل شي او ګټه به يې ورسېږي او که نه. که داسي ونه شي، دهليزونه به د نابرابرۍ پانګونه شي. يو بل تشويش دادی چي د دهليز په مرسته نښلول شوي ستر تجارتي او اقتصادي مرکزونه به تر نښلوونکو، ترانزيتي سيمو او هېوادونو چي ترانزيتي لاره او دهليز ورنه تېرېږي، زياته ګټه وکړي. د دهليز په اوږدو کي به هم د مختلفو مهارتونو لرونکي مختلفي ګټې تر لاسه کړي، د ترانزيتي دهليز په غاړه کروندګرې کورنۍ به په تاوان کي وي که د هغوی د ځمکو د مالکيت حق خوندي نه وي.
د مثال په توګه په چين کي، د سړکونو د ملي شبکي جوړښت په عمومي توګه د خلکو عايد په اوسط ډول ۴ سلنه زيات کړ – خو د حقيقي مزدورۍ کچه يې په ښاري او کليوالي سيمو کي کمه کړه (Robert et al, 2012). نو يوازې کله چي ترانزيتي دهليزونه ښېرازي په پراخه کچه رامنځته او شريکه کړي، نه يوازې ګټونکي لري بلکه بايلونکي تر شا نه پرېږدي، نو هغه وخت عادلانه وده رامنځته کوي او د بېوزلی له کمولو سره مرسته کوي. يو د لوړ ارمان ورته وړانديز شوی دهليز له کابل افغانستان تر چيتيکانګ بنلګلديش پورې دی. لوړسيمه ايز ارمان يې دادی چي د وربېنمو نوی اقتصادي کمربند ورسره يو ځای شي، کوم چي ممکن بېجنګ له بروکسل سره په اروپا کي وتړي. دا به سويلي اسيا ته هم ښاخونه ولري او زيات مرکزونه به سره وتړي. خو دا به تريليونه ډالره پانګونه وغواړي او بل خطر به يې داوی چي له نورو اړينو سکتورونو لکه تعليم، کرني او نورو سکتورونو به پانګونه راکمه کړي. نو د دې لپاره چي په ټولو ورته مسئلو يو ملک پوه شي، ورته اړتيا ده چي د څېړنو اړونده مرکزونه او کارپوهان ولري، له نورو سکتورونو سره يې په ګډه پلان کړي چي څنګه ملک کولای شي له ممکنه ترانزيتي دهليزونو مناسبه ګټه واخلي، پخپل ملک کي مناسبو مارکېټونو ته وده ورکړي، توليدي توکو زياتوالي او ښه کيفيت ته پاملرنه وکړي، د ثروت د مناسب او عادلانه وېش او پانګې د راجلبولو، د خپلو خلکو د تخنيکي او نرمو مهارتونو د لوړولو او نورو په برخه کي سم ګامونه واخلي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

## اوس افغانانو ته څه کول پکار دي؟

تر ټولو مهمه خبره داده چې د سترو پروژو، ترانزيتي او اقتصادي دهليزونو ممکن کول او ورنه ګټه اخيستل يوازې د سولې او ثبات په صورت کې شوني کېداى شي. که سوله او ثبات په ملک کې نه وي او همدا جنګونه مو په ملک کې روان وي، دا هر څه به خوب او خيال پاته شي، ځکه اوس ملکونه په ډېر سرعت له يو بل څخه وروسته پاته او يا پرمخ ځي، دا دهليزونه به په نورو ملکونو کې رامنځته او وده وکړي، د مثال په توګه که موږ سم شرايط رامنځته نکړو نو له چابهاره تر تورغونډي او ان تر ترکيې دا لاره به مناسب رشد ونه کړي او په ځاى به يې ايران له خپلې خاورې هند، قفقاز، روسيه او اروپا سره وتړي، د چين او پاکستان اقتصادي او ترانزيتي دهليز به زموږ په ګاونډ کې بل يو داسې پرمختګ وي چې موږ به تر سيورې لاندې راولي. که څه هم افغانستان سويلي او مرکزي اسيا لپاره د وصل تر ټولو لنډه او ښه لاره ده، خو که سوله او ثبات په هېواد کې نه وي، سړکونه او زيربناوې مو ټيټ کيفيت ولري، قوانين او مقررات مو زاړه او له فساده ډک او پلي نشي، د غلو، غديو چې اصلي تومنه يې په ملک کې زورواکي ده مخه ونه نيسو، نو تر ابده ترانزيتي او اقتصادي دهليزونه موږ ته صبر نشي کولاى او په نورو ملکونو کې وده کوي. د ګاونډيو ملکونوستره موخه داده چې موږ په شخړو کې وساتي، تر څوسرراپورته نکړو، د هغوى د لاسپوڅو خاينو کړيو په لاس بېوزله وساتل شو او وځپل شو تر څو مو حريصو ګاونډيانو ته ميدان خالي شي.
بيا به مو راتلونکي نسلونه چې نورو ته به اړ او له هر څه به محروم وي په موږ او په اوسنيو سياسي لوبغاړو که په هره خواکې دي لعنت به وايي. بايد هوښياري وساتو، تر اوسه هم يو څه وخت لرو خو د ځينو ګاونډيانو له سختو رقابتونو او دسيسو سره مخ يو. په دې کې که د لمړۍ درجې مشرانو او دولت رول زيات دى، خو دوى يوازې دا مهم ارمانونه بې د ملت له ملاتړه نشي ترلاسه کولاى.    په دې مهم کې د هر افغان مسؤليت دى چې مرسته وکړي، چاروکي اړ کړي او هم د هغو مسؤلينو او دولت ملاتړ وکړي چې دې موخو ته ژمن وي او ورته په اخلاص کار هم کوي.
بايد ښه پوه شو چې که په هېواد کې زورواکان په واک کې وي، دا ټول ارمانونه او لرليدونه به دوى د خپلمنځي سياليو په شخه شولانګه کې په سيند لاهو کړي او په سيمه ايزو جيوپوليټيک او جيوستراتيژيک شطرنج لوبو کې به هر څه د لړ پيسو او ډلبازيو او يا د سيمه ايزو هغو شريکانو او لوبغاړو سره چې ګڼې ستراتيژيکې ګټې يې له موږ سره شريکې دي د نه همغږۍ له کبله به وبايلي.
د سولې او ثبات په شتون کې به موږ وکولاى شو چې خپل او د سيمې او نړۍ مهم تجارتي، توليدي او اقتصادي مرکزونه په اغېزمنه توګه سره وتړو او د اسيا په څلور لارې بدل شو.  د افغانستان بله مهمه اړتيا داده چې ټول اړين ترانسپورټي، تجارتي، توليدي، صادراتي، د داخلي او بهرنۍ پانګونې قوانين او مقررات نوي، رڼه او د پانګوالو لپاره اسانه او په کلکه پلې کړي. موږ نشو کولاى چې د فساد او رشوت په شتون کې د اسيا د تجارت او ترانزيت په څلور لارې بدل شو او اورمرو نور هېوادونو دا سيالي له موږ څخه ګټي. زموږ بېخبنايي بنسټونه لکه سړکونه، ريل لارې، بندرونه، تم ځايونه، رستورانونه او هوټلونه، روغتيايي مرکزونه، مارکېټونه او نور بايد په نړيوالو ستندردونو برابر وي.
موږ بايد پخپله خاوره کې د دې لارو او اقتصادو دهليزونو په اوږدو کې د يوې ملي ستراتېژۍ له مخې، د ملي او نړيوالو پانګوالو لپاره لاره اواره او توليدي مراکز او داسې مارکيټونه رامنځته کړو چې افغاني کيفيت لرونکي توليدات او پيداوار د پلور لپاره په مناسبه بيه وړاندې او بهر ته د دې ترانزيتي لارو په مرسته په اسانې صادر کړو. که داسې و نه شي د نورو ملکونو ترانسپورټي کاروانونه به يوازې زموږ له ملکه تېرېږي، نه به دلته پيرودل کوي، نه به زموږ اقتصاد ته زياته ګټه رسوي بلکه د زيربناوو د تخريب او د هوا د ککړوالي لامل به مو کېږي او هغه خاک پولې چې ورنه تر لاسه کوو له مصارفو به نه زياتېږي.
افغانستان د نړيوال تجارت د سازمان (World Trade Organization, WTO) غړى دى او موږ اړ يو نړيوال مقررات ومنو. همدارنګه، زموږ خوراکي توکي، تازه او وچې ميوې او ورنه توليد شوي توکي لکه مربا او جوس، سابه او نور بايد د نړيوال تجارت له مقرراتو او ستندردونو سره برابر وي. زموږ توليدات بايد ښه کيفيت ولري او په نړيوالو بازارو کې سيالي وکړۍ شي. زموږ کرنيز توليدات او تجارتي توکي بايد له نباتي او حيواني ناروغيو، کيمياوي او زهري موادو پاک وي تر څو په نړيوالو مارکيټونو کې تر ازمويلو وروسته قبول او بېرته مسترد نشي. تر اوسه داسې هم شوي چې زموږ انار له سويلي کوريا څخه د حشره وژونکو کيمياوي موادو د پاته شونو د شتون له کبله بېرته مسترد شوي دي. نو زموږ د سنتشن او فيتوسنتشن (SPS) مقررات بايد له نړيوالو ستندردونو سره برابر او په خورا سختۍ پلي شي، بسته بندي مو له نړيوالو معيارونو سره سمه وي **او افغاني برنډ په هره ساحه کې بايد د اعتبار وړ وي**. روښانه ده چې دا له موږ څخه د کرنې، تجارت، پانګونې او صنعت په برخه کې زيات کار، ځښې، ښې پاليسي، قوانين او مقررات غواړي چې روښانه ده زياتو کارپوهانو ته هم اړتيا لري. که مو دا او نور ورته کارونه وکړل نو په نړيوال مارکيټ کې به افغان برنډ ښه نوم او ځاى تر لاسه کړي، د خلکو ژوند، کورنى او ملي اقتصاد به مو ځو ځلې قوي او د ژوند کيفيت به مو څو واري ښه شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ

د یوه سوکاله او بریالي افغانستان په هیله!

محمد عارف رسولي
کابل، افغانستان

**ماخذونه:**

1. لاجورد دهلیز د سیمه ایز دهلیز او نړیوال جیو پولیتیک په رڼا کې، شعیب رحیم
2. د نړیوال بانګ د منابعو د دهلیز پروژه، مایکل ستېنلي
3. مقاله راه لاجورد و اهمیت آن برای افغانستان، ضیا دانش استاد پوهنتون
4. د ستراتېژیکو او سیمه ایزو مطالعو مرکز خپرونې
5. د بي. بي. سي. چاپي خپروني
6. په سویلي اسیا کې د ترانزیتي دهلیزونو راتلونکی، د نړیوال بانک خپرونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ